لیکوال: هانس کریستیان اندرسن ۲۰۱۷/۱۰/۱۶
ژباړن: آصف بهاند

# د کوچنۍ «ایدې» ګلان

# Den lille Idas Blomster

## دریمه برخه



هغې له ځان سره وویل:
«آیا زما ګلان به اوس هم د سوفیې پر کټ پراته وي؟ زړه مې غواړي پوه شم چې څه خبره ده!»
هغه لږ د دروازې په لورې ور وخوځېده او له نیم کښې دروازې یې ولیدل چې ګلان او د لوبو شیان ټول پر خپلو ځایونو پراته دي. هغه غوږ شوه او داسې یې وانګیرله چې په سالون کې داسې نرمه او ښکلې پیانو غږول کیږي، چې پخوا دې نه وه اوریدلې.
هغې وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«اوس ټول ګلان ګډيږي، اوه خدايه! څومره مې زړه غواړي د هغوی ګډا وګورم!» خو وې نه شو کړای چې له ځايه پاڅيږي، ځکه چې د مور پلار له را ويښيدو نه ډاريده. هغې سوچ وکړ:

«کاشکې ګلانو کولای شول دلته راشي.»

خو ګلان رانغلل او موسيقي غږيده. له هغه ځای نه ټول شيان ښکلي ښکاره کيدل، هغې طاقت و نه شو کړای او په پای کې د خوب له تخته جګه شوه، ورو د دروازې خوا ته لاړه او سالون ته يې ور وکتل. اوه! ټول څه چې دې ليدل، ډير زړه وړونکي وو.

سره له دې چې هلته هيڅ څراغ نه و، سره له هغه هم هلته رڼايي وه، د سپوږمی رڼا له کړکی نه د سالون پر غولي ځليده، داسي رڼايي وه، لکه ورځ چي وي. ټول سنبل او غاټول ګلان، په دوو اوږدو کتارونو کي پر غولي ولاړ وو. په کړکی کي پرته له تشو ګلدانونو، نور هيڅ شی نه و. په غولي کي ټول ګلان په زړه وړونکي ډول سره ګډيدل، هغوی يو د بل پاڼي نيولي او د ځنځير په بڼه يو پر بل سره تاويدل. يو لوی زير زنبق ګل له پيانو سره کيناست او هغه يې وغږوله. وړه «ايدا» ډاډه وه چې هغه يې تير اوړی ليدلی و، هغې ته ور په ياد شول چې زده کونکي ويلي وو:
«هغه څومره لين (Line) نومې نجلی ته ورته دی!» او بيا ټولو په ده پورې خندلي وو؛ خو اوس وړې «ايدې» ليدل چي زير نری زنبق ګل، په ريښتيا سره آغلي لين (Line) ته ورته دی! هغه، هماغه کار کاوه چې آغلي لين د پيانو غږولو په وخت کي کاوه، خپل زير مخ يې له يوې خوا بلې خوا ته اړاوه او په خپل وخت يې د موسيقي له غږ سره برابر خپل سر ښوراوه.

د هيڅ ګل وړې «ايدې» ته پام نه و. هغې نا څاپه وليدل چې يو زعفراني ګل ميز ته ورخيز کړل، چيرې چې د لوبو اسبابونه پراته وو، بيا د ناوکی د خوب تخت لوري ته ورغی، چيرې چې ناروغ ګلان پراته وو، پردې يې کش کړې. ناروغه ګلان ناڅاپه له تخته راجګ شول، د باندې را ووتل او نورو ته يې سرونه وښورول، په دې مانا چې هغوی هم غوښتل وګډيږي.

يو زوړ پيپ څښونکی سړی چې لاندې شونډه يې لکه پړې چې وي، له ځايه جګ شو او د ګلانو د درناوي له پاره يې ځان خم کړ. ګلان هيڅ ناروغ نه ښکاريدل، د غولي پر مخ يې له نورو ګلانو سره خيزونه وهل او سخت خوشاله وو.
ناڅاپه داسي څه وشول لکه کوم شی چې له ميز نه ښکته لويدلي وي. «ايدې» وليدل چي د نوي کال د جشن له پاره رواړل شوي د ونې څانګې، له ميز نه ښکته ټوپ کړل او داسي يې انګيرلي وه چي دا هم يو ګل دی! څانګه هم ډيره ښکلي وه، په يوه برخه کې يې له مومو جوړه يوه نانځکه بنده وه چې لکه د پوهنتون د مشر غوندې يې شپو خولی پر سر ايښي وه . څانګې له خپلو دريو سرو لرګينو پښو سره، د ګلانو په منځ کي خيزونه وهل او پښې يې په غولي دربولي او «مازورکا» موسيقی ته داسي ګډيده چي ګلانو نه شوای کولای هسې وګډيږي، ځنګه چي ګلان له وزنه سپک وو، نه يې شوای کولای د غولي پر مخ پښې ودربوي.

ناڅاپه د څانګې د سر مومي نانځکې جګه او غټه شوه او پر کاغذي ګلانو باندې يې غالمغال پيل کړ:

«دا څه چټيات دي چې تاسو د ماشومانو ماغزه وربانديې ډکوئ! دا څه احمقانه خيالپلو دي!»

مومي نانځکې له خپلې شپو خولی سره په هغې شبيه کې، لکه د پوهنتون مشر، زيړه ځيره او تروشه قواره درلوده. کاغذي ګلانو د مومي نانځکې په ډنګرو پښو باندې وارونه پيل کړل او هغه بيرته له سره ټوله او په يوې وړې مومي نانځکې بدله شوه.

د دې صحنې ليدل ډير خندونکي و او وړې «ايدې» نه شوای کولای د خپلې خندا مخه ونيسي. څانګې خپله ګډا پسې وغځوله او د پوهنتون مشر هم اړ و چې له هغوی سره وګډيږي. دې مرسته نه کوله چې څه سړي ځان جګاوه او ټيټاوه او څه وړوکي مومي نانځکه له خپلې توري خولی سره ښوررېده، خو بيا هم دوی اړ وو چې وګډيږي. بيا ګلانو، په تيره هغو ګلانو چې د نانځکې د خوب پرتخت اوږده ځغيدلي وو، هيله وکړه چې څانګه خپله ګډا ودروي. په همدې وخت کې له هغې ټوکری نه ـ چې سوفيه نانځکه او د لوبو نور سامان په کې و ـ يو غږ واوريدل شو، پيپ څښونکی سړی په منډه د ميز څنډې ته ورنږدې شو، په خپلې خيټې پرمخې پر ميز باندې اوږد وغځيد او د ټوکری سر يې لږ پرانست. سوفيه راجګه شوه او په حيرانتيا يې شا و خوا وکتل او وې ويل:

«وينم چې جشن مو جوړ کړی دی، ولې مو زه نه يم خبره کړې؟»

پيپ څښونکي سړي وپوښتل:
«کيدای شي له ما سره وګډيږې؟»



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

سوفي وويل:

«ته يو دروند سړی!»

بيا يې شا وروا ړوله او د ټوکرۍ په څنګ کې کیناسته او په دې سوچ کې شوه چې: کوم يو ګل به را نه شي او ما به د خپلې نامزدۍ له پاره انتخاب نه کړي، خو يوه ګل هم له هغې نه دا غوښتنه و نه کړه. هغه د نورو د پام اړولو په پار وټوخيده، خو هيڅ چا ورته پاملرنه و نه کړه. پيپ ځښونکی يوازې وګيد او بد هم و نه ګڼيد!

کله چې هيڅ يو ګل هم پام ور ته و نه کړ، سوفيې له کجاوې نه د کوټې غولي ته ځان ور وارتيره او دا ارتيرل دومره له غږ او ځوږ سره مل وو چې ټول ګلان په منډه راغلل او ګرد چاپيره ور نه را تاو شول چې هغه وپوښتي چې ژوبله شوې خو به نه وې؟

ټولو ګلانو له هغې سره مينه کوله، په تيره هغو ګلانو چې د دې پر تخت باندې اوږده غځيدلي وو. سوفيې ځان نه و خوږ کړی، ټولو ګلانو په دې خاطر له هغې نه مننه وکړه چې هغوی يې پرې ايښي وو چې د دې پر تخت ويده شي، ورته وې ويل چې پر دوی ګرانه ده.

بيا يې د غولي منځ ته ـ چيرې چې د سپوږمی رڼا ځليده ـ له ځانه سره بوتله او ورسره وګډيدل، ټول ګلان له هغې نه را تاو وو او سوفيه ډيره خوشاله وه او ګلانو ته يې وويل چې هغوی کولای شي د دې د خوب تخت وکاروي او دا کولای شي په ټوکرۍ کې ويده شي.

خو ګلانو وويل:

«له تا نه ډيره مننه، موږ نه شو کولای اوږود ژوند وکړو، کيدای شي موږ سبا مړه شو، وړې «ايدې» ته ووايه چې موږ په بڼ کې ـ چيرې چې کنرې يې خښنه کړې وه ـ خښ کړي، موږ به په اوړي کې بيا را شنه شو او وده به وکړو او له پخوا نه به نور هم ښکلي شو!»

سوفيې وويل:

تاسو بايد مړه نه شئ!» او ګلان يې ښکل کړل. په هماغې شيبې کې د سالون ور بيرته شو او تر ټولو ښکلي ګلان په ګډا سره را ننوتل. وړوکې «ايدا» پوه نه شوه چې هغوی له کوم ځای نه راغلي دي، ښايي له شاهي ماڼۍ نه راغلي وي. دوه سره ګلاب ګلان، چې زرين تاج يې پر سر و، راننوتل، هغوی د ګلانو شاه او شاه ميرمن وو. ورپسې د شببو او لونګو ډير ښکلي ګلان ـ چې شا و خوا يې ټولو ته درناوی کاوه ـ راننوتل او له ځانسره يې جالب موزيک هم راوستی و. د موسيقي په آلاتو يې زړه وړونکي رنګارنګ ګلان ټومبلي وو او د موسيقي آلات يې داسې پو کول چې خيرې به يې تکې سرې شوې. په زړه پورې موزيک و او رنګارنګ ګلانو داسې شور بګت جوړ کړی و چې ته وا ټولو په ځانو پورې زنګونه ترلي وي، بيا نور ډير ګلان هم راغلل او ټول سره ګډيدل. کله چې ګډا پای ته ورسيده، ګلانو يو بل سره ښکل کړل، د هغوی ليدل ډير ښکلي او په زړه پورې و.

په پای ګلانو يو بل ته شپه په خير و ويلې، وړه «ايدا» هم د خوب ځای ته ستنه شوه او د هغه څه په باب يې فکر کاوه چې دې ليدلي وو.

سبا سهار چې «ايدا» له خوبه جګه شوه، مخامخ د واړه ميز په لوري لاړه، غوښتل يې پوه شي چې تر اوسه ګلان هلته شته که نه. د خپل خوب له تخت نه يې پرده يوې خوا ته کړه، هوکې ټول ګلان هلته وو، خو له پرون نه نور هم مړاوي شوي وو. د هغې نانځکه (سوفيه) په ټوکرۍ کې اوږده غځيدلې وه او ډيره خوبولې ښکاريده.

وړې «ايدې» وويل:

«د تيرې شپې څه شی دې په ياد دي چې ما ته يې و وايې؟»

خو سوفيه غلې وه او سپږ يې هم و نه کړ.

«ايدې» لږ په تونده لهجه ورته وويل:

«ته سره له دې چې ښه نانځکه نه يې، خو هغوی ټول درسره وګډيدل!»



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بيا يي يو كارتن چې د يو الوتونکي ښکلی عکس ورباندې و، را واخست، سر يي ورته پرانست او مړه ګلان يي به کې کېښودل.

وړې «ايدې» وويل:

«دا ستاسو وړوکی او ښکلی تابوت دی. کله مې چې د تره زامن له ناروي څخه را ستانه شي، هغوی به ما سره مرسته وکړي چې تاسو په بڼ کې خاورو ته وسپارم، څو په راتلونکي اوړي کې بيا راشنه شئ، وده وکړئ او تر پخوا لا ښايسته وغوړېږئ!»

ناويژي کاکازيان دوه ځواکمن هلکان وو چې يو يونس (Jonas) او بل آدلف (Adolph) نوميدل. د هغوی پلار دوی ته يوه ليندی او څو غشي ورکړي وو، دوی هم هغه له ځان سره راوړي وو چې «ايدې» ته يي ور وښيي.

وړې ايدې د تره زامنو ته د ګلانو د مړيني يادونه وکړه او هغوی ته يي وويل په خښولو کې مرسته وکړي. هر څه د خاورې سپارلو له پاره چمتو وو. هلکانو چې ليندۍ پر اوږو اړولي وې، مخکې روان وو، او وړه «ايدا» د ګلانو کارتن په غيږ کې ورپسې وه.

د بڼ په يوه څنډه کې يې يو وړوکی ځای وکيند، مخکې له دې چې ګلان خاورو ته وسپاري، «ايدا» ګلان ښکل کړل او له کارتن سره يي خښ کړل او د تره زامنو، يونس او آدلف کوم توپ يا توپک نه درلود چې د درناوي په پار ډزې وکړي، ځکه يي د قبر د پاسه غشي ور ګوزار کړل.



پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr, 1, 53 – 69 s, Odnsa, Denmark,1994



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ